***دمقالی لیکونکی***: **جان بازیل** اوتلی(Jon Basil Utely).
***منبع اودخپریدو نیټه*** **: انفارمیشن کلیرنګ هوس (۲۰۱۵-۶-۱۳).**
ژباړونکی **: پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)**
---------------------------------------------------------------------------

# دامریکی متحده ایالات ددولسورغنده دلایلو پربنسټ دجګړې وړونکی نه شمیرل کیږی

# 12 Reasons America Doesn't win its war

***تراوسه په دی جګړه کی دیری احزاب دخپل تلپاتی وندی اخیستنی پایلی دامریکی دمتحده ایالاتو نظامی اوجګړیز پالیسی یااختلافات کنی***

**جون ۱۳-۲۰۱۵ انفارمیشن کلیرنګ هوس ؛ امریکنی محا فظه کار؛** *د امریکی متحده ایالات پخپل پیل کړل شوی جګړه کی بریا لی نه ښکاری یعنی دامریکی متحده ایالات په دی پیل کړل شوی جنګ کی ګټونکی نه ګڼل کیږی او هغه دا چی د جنګ اودجګړی ګټل دنورواهدا فو په پرتله یو تا لی یا یو فرعی هدف شمیرل کیږی .*
*دامریکی دمتحده ایالاتو دپاره دجګړی ګټل اویا بایلل یو څه کم سمدلاسه پا یلی یا لاسته راوړنی بلل کیږی ځکه چی دغه جنګ اوجګړه مونږ پخپل خوښه پیل کړی یعنی زمونږ یو انتخابی چګړه دی اوزمونږ دملی ګټو دپاره دغه روانه جګړه کوم حیا تی اهمیت نه لری نوپه دی بنیاد دجګړی بایلل په دی مفهوم نه دی کوم چی مونږد خپل تیری یا یرغل مخه نیولی اویا داچی ددی جګړی له مخی زمونږ ښارونه دخاوری سره خاوری شوی په هر صورت دپورتنی یادونو پر بنیاد لاند نی څو په زړه پوری دلایل دی کوم چی واشنګټن ونشو کړلی چی دغه نه ختمیدونکی جګړه ویسی یا په دی جګړه کی بری تر لاسه کړی .*
*لمړی :دجنګ اودجګړی ساتنه اودوام پخپله دکنګرس داولسوالیو اودنواحیو دشاملو غړو اوبیا په ځانګړی بڼی سره دهغو سیاسیی تجاری جګړه غوښتونکو ډلو ټپلو دګټو دخوندی ساتلو موضوع په نظرکی نیول کیږی کوم چی دپوهنتونونو دفاکولتو دستراتیژیکی څیړنو دپاره دمالی اودبودجوی کمکونو ترلاسه کول دی چی هغوی دنوی سلاح اوجنګی مهماتو دچمتو کولو دپاره نوی ما لی اوبودجوی مرستی تر لاسه کړی چی دا پخپله د جګړی غوښتونکو تجاری سیاسیی کنګرس مینانو د پاره په زړه پوری موضوع بلل کیږی .*
*دبلی خوا څخه په کنګره کی دپنتاګون کوم یوغړی ددی سوال کولو څوک جرءت لری چی دامریکی دمتحده ایالاتو د د فاعی بودجی په اړه څه وړاندیز ولری اویا څه تبصره وکړی؟*
*دوهم: د جګړی اود نښتی یا ددرګیری دوام درغنده پریکړی دنیولو څخه مخنیوی کوی*

یاداچی ددفاعی مالی اضافی لګښتونودراکمولو یا دتقلیل پریکړی اویا تصمیمګیری شاته غورځوی لکه داضافی نظامی اډوتړل ،یا د مضاعف اوتکراری ورته سیستم له مینځه وړل یا فسخ کول کوم چی که په اضافی بی ګټو ضایعاتو یا اضافی مالی مصارفاتو باندی یو څه ژور فکر وکړل شی داهغه څه دی چی تا سی کولای شی چی د د فا عی بودجی دکمیدو یاد دراتیتیولو پر (۱۶) منل شوی لاری باندی یو څه تم شی ، په هر صورت شکسپیر دغه موضوع په ښه شان سره داسی رابیانوی : پاچا ته دزیاتو خارجی جګړو مشوره ورکول دداخلی یا ددننه په کورکی د آرامی اودهوساینی دبرقراریدو په منظور !
دریم دجنګ اودجګړی پیل اویاجنګ کول دتیرو پاچاهانو(اودجمهور ریسا نو) په خلکو کی دمحبوبیت دلاسته راوړلو اودداخلی ستونزو داصلاحاتو اودسمون څخه سرغړونه دهغوی یواځنی لاره وه کوم چی هغوی د خپل زمامداری په وخت کی ترسره کول او داځکه چی جنګ اوجګړه فرصتونه د لاسه ورکوی او دا صلاحا تو اود ریفورمونو پلان شا ته اچوی یعنی جګړه که عمدی وی یا که تحمیلی هغه لوی خنډ بلل کیږی چی زمامدارانو ته وخت نه تر لاسه کیږی چی دهیواد په د ننه کی ا صلاحات او ریفورمونه ترسره کړی اویا موجوده ستونزی له مینځه ویسی .کوم چی دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره که دچورج دبلیو بوش بریالیتوب ته د امریکی د متحده ایالاتو د جمهوری ریاست په انتخاباتو کی یوڅه پام واړو داسی به جوته شی چی هغه په انتخاباتی کمپاین کی دامریکی خلکو ته وعده وسپارل چی که چیری هغه دامریکی جمهور ریس شی نو په لمړی سرکی به بودجه اومالی لګښتونه متوازن ګرځوی ، روغتیا یی مراقبتونه ته نوی اصلاحی بڼه ورکوی ، دښونکو اتحادی سره پوره مرستی کوی اوپه هغه کی اصلاحی ریفورمونه راولی ، مات او ویجاړ زیربنا یی چاری به سموی ، اوپه همدی شا ن سره نور ټول موجوده پرابلمونه یود بل پسی اصلاح کوی اویا ستونزی د مینځه وړی اما له بده مرغه کله چی په جنګ اوچګړی باندی لاس پوری کړل هغه خپل ټول وعدی له یوسره ترسره نکړل اودجنګ اودجګړی په پلمه دهیواد په د ننه کی هیڅ یواصلاحی ریفورم ته پا م وانوړول اوهغه دامریکی دمتحده ایالاتو دجمهوری ریاست په دوهمه دوره کی ځان له سره وتړا کل او دښته لوی پوروںو سره سره بیاهم له سره جمهور ریس شو ا و د امر یکی خلکو په تریلینونو ډالر دبا ند نیو هیوادونو په پورونو کی ترستونی لاندی پریوتل .
څلورم:: د خصوصی نظا می قرارداد یا نو (پیمانکارانو) ګټی له دغه دوامدار موجوده بحران او جنګ څخه ډیر اوچت دی او دا هغه څه دی کوم چی هغوی ته د سولی په دوران کی لکه چی عادی امریکایی سرتیروته معاش ورکول- معاش نه ورکول کیدل ، اما اوس دغه قراردادیا ن چی دهغوی شمیر ډیرزیات اواکثراُ ټول هغه پخوانی نظا می خلک دی دافغانستان اودعراق په دننه کی دامریکایانو دګاردا ویا دهغو دامنیت دساتلو تر عنوان لاندی ډیر زیات پیسی تر لاسه کوی کوم چی د امریکی دنده لرونکو ته دا سی

پیسی نه تر لاسه کیږی .

*پنځم :دواشنګتن واکداران یا دلی تپلی د تنویری خونی په پرانستیلو او په رونق ورکولو سره کوم چی روشنفکران او وینا کونکی ته د مد یا دلاری پواسطه سره زیا ت وخت اوفرصتونه چمتو کړی نوددی مقصد دسرته رسولودپاره هغوی ته زیات مالی اوبودجوی اسانتیاوی برابروی اوسربیره پر هغه نوموړی روشنفکرانو ته ځنی دولتی سفرونه هم چمتو کوی اویا هغوی حد اقل په ډیر آسانی اوراحت سره دجنګ میدان ته لیږی اوپه هغه شعباتو اواداروکی په کار یی ګماروی کوم چی هغوی په آرامی سره د امریکی دکنګرس میانو ضد او دښمنا ن وڅیړی اوهغوی دمید یا دلاری دعامه خلکو په اذهانو کی محکوم کړی اویا داچی دروان جګړی داخلی منتقدان وځپی او هغوی دداخلی د ښمنا نو په قطار کی وشمیری اوس هریو سره دغه مهم احسا س را ژوندی دی چی باید عراق سره بشری مرسته وشی ، مګر دا مو باید په یاد وی چی هر جنګ اوجګړه دندی نه زیږوی نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره اوس ډیری امریکا یا ن د د ندی اود شغل د لاسته راوړلو د پاره هرچیری ځی اوځان ته د ندی تر لاسه کوی .*

*شپږم : کیبلی تلویزیون دنور تلویزینونو په پرتله چی ځنی زوړ او سترې کیدونکی پیښی اوواقعات خپروی زیات لیدونکی لری او د همدی دلیل په نظر کی نیولو سره دا ډول تلویزینونه دتبلیغاتو اوداعلاناتو دلاری څخه زیات پیسی تر لاسه کوی لکه دمثال په بڼه که د (CNN) تلویزیون په نظر کی ونیول شی هغه وتوانیدل چی د ما لزیا دالوتکی د ورکیدو په اړه دڅو اونیو دپاره تبلیغات تر سره کړی او خپل لید ونکوته هرګړی نوی خبرونه رسول نو په دی بنیا د سره ویلی شو چی جنګ پخپله یو بوږنونکی پیښه دی اوبیا کله چی دغه بوږونونکی پیښي په تکرار سره د (۲۴) ساعت دپاره خپور شی نو په هغه صورت کی دلیدونکو دپاره یوه لویه سرګرمی رامینځته کوی او د هغو په ذهن کی ځنی شیان که حقیقت هم ونه لری را مینځ ته کیږی اودهغو باورمندی لاپسی زیاتوی .*

*اووم:* زمونږ داردو د سرتیرو او د سمند ری قوتونو د ندی او مهارتونه د تیرو جنګونو اود شخړو د پا ره له مخه د یزیان ا و په نقشه شوی وه کوم چی زمونږ سرتیری او زمونږ بیړی چلونکی له سره په ورته بنی سره روزل شوی وه اودخپل ملګرو نظامیانو سره ددی توان لرلی چی خپل وسا یط او بیړی له سقوط او له ډوبیدو څخه په امن کی وسا تی حال داچی که دریم نړیوال جګړه پیل شی نو په هغه صورت کی پرته د قانون دحاکمیت څخه به قومونه ، اونظامی رهبران دخپلو شخصی ګټو اواړیکود په نظرکی نیولو سره هرشی به په مخه بیایی اونړی به دتباهی کندی ته ور وغورځوی .

**اتم:** مونږ له دی نه چی هره ورځ په کلی اوښارونو باندی بمونه غورځو اوخلک وژنو نوددی توان هم نه لرو چی تلفات اوبشری ضا یعا ت په ریښتنی بنی سره راجستر کړو اودهغو په شمیر باندی پوه شو مثلاً که تا سی په عراق کی ذ(بلوجی) کلی په نظر کی ونیسی تاسی ته به اوچته معلوم شی چی مونږ دخپل اعمالو په بدل کی هره ورځ ځان ته

نوی دښمنان را زیږوو نو که چیری وړنه اویا بریالیتوب ډیر داهمیت وړ وګڼل شی نو په هغه صورت کی مونږ به ددی توان لرلی شو چی ډ یری بشری ضا یعات او تلفات مو راجستر کړای وای ،اوډیری سرتیری مو په با رکونو کی ځا ی پرځا ی کړای وای اوملیتونه به مو تر څارنی او اشغال لاندی نیولی وای بی له دی چی د کوم خنډ سره مو مخه شوی وای حال داچی دغه چګړه کوم چی تراوسه دوام لری پایلی نه دی معلوم او جګړه دکلونو کلونو دپاره بی دکوم فرجام دوام لری .

نهم: ځنی امریکایان غواړی چی خپل پا تی ژوند دنړی دنارامو ،خوارو قومونو ،دینی مسا یلو اودهغه هیوادونو ددودونو اورواجونو په مطالعه او شناخت کی سره تیر ه کړی دتاریخ له پاڼو څخه داسی را په ګوته کیږی چی دبریتانیا امپراتوری دګڼ شمیر بی وزلو سکاټلیندی اوایریشی کارګرانو د سخت غبرګون اونیوکی سره مخا مخ وه ترڅو چی هغوی ته دهیواد په دننه کی کار اود ندی میسر شی ، حال دا چی امریکا یا نو ددغسی ستونزی سره مخا مخ نه دی او امریکا یا ن کولای شی چی په ډیر لیری ځا یونو کی هم کار اود ندی تر لاسه کړی اود کار اداره پخبل لاس کی واخلی .

لسم : زمونږ کنګرس د وړنی او د بریا لیتوب په نسبت د پیینی نما یشی اوظاهری اړخ ته زیا ت دلګرمی اوعلاقمندی ښیی. سیا سیی سخت ستونزمن خود محوری او خودنما یی اومحلی حوزو اوسیمو ته دناوړو کارونودسرته رسولو دپاره هڅی اوواسطه کول دهغو خودغرضو یوله ډیر عمده اواساسی اهدافو څخه شمیرل کیږی کوم چی اوس تول دبصیرت خاوندان دهغو پرکړونو با ندی ښه پوهیږی ، د بیلګی په ښه تاسی دایران په هکله دځان سره سوچ وکړی کوم چی دوی نه غواړی چی هلته سوله پلی شی هغه لا څه چی یوه بله نه ختمیدونکی تلپا تی جګړه په مینځی ختیځ ا ودخلیج په هیوادونو کی دنفت اودګا ز پر سر جګړه دی چی د هغه لمن هره ورځ په پراخیدو کی دی اوداهم دهمدغو سولی نه غوښتونکو ډلو ټپلو هڅی اواند دی . کوم چی د هغه ځای خلک له دغه بد امنی څخه رنځ وړی .

یولسم : زمونږ دداخلی امنیت جوړید نه او سا تنه اویا د داخلی امنیت دتا مینولو دپا ره دجوړکړ شوی دښمنا نو د تهد ید پها نه اوپلمی په اړین دغه ټګمار جګړه غوښتونکی ډلی ټپلی په سلګونو تریلیون ډالر په مصرف رسوی .اوجګړه مارو تروریستانو د پاره ګڼ شمیربمونه او سلاحګا نی دروان جګړی دګرم ساتلو اونه ختمیدو دپاره چمتو کوی ، نو که چیری په ریښتنی ښی سره امریکایانو دغه جنګ اوجګړه وګټی نو دهغوی په فکر سره به ددی خلکو معا شونه به ډیر شی او دهغو دندی به لا پسی رونق واخلی .

دولسم : مونږ ددروغجن عملیاتی بیرقونو اودپردیو دتبلیغاتو په اړین ډیر زیانمندونکی اوخساره منونکی دولت یا خلک یاستو ډیری اجنبی اوپردی خلکو او قومونو پرمونږ قبلوی چی دهغوی دښمنان له پښو وغورځو اویا دهغو دهستوګنی پرمحلاتو باندی بمونه وغورځوو ، زمونږ وروستی یرغل پر لیبیا باندی وښودل چی مونږ د ناسم او غلط

معلوماتو دلاسته راوړو پر بنسټ هغه هیواد دخاوری سره خاوری کړل ، زمونږ متحدین لکه سعودی عرب وخت ناوخت مونږ لمسوی چی ایران وران کړو،زمونږ ترکی دوست له مونږ څخه غواړیی پر اسد یعنی دسوریی پرخاوره اوجمهور ریس باندی یرغل ویسو دبلی خوا څخه زمونږ دایمی دوست اسرایل (یا نیوکان) په وار وار زمونږ څخه غوښتل چی عراق او کویت سره بیل کړو اوددی کار دپاره دمنطقی شیخان او بیا په ځا نګړی ډول دکویت دتیلو شیخان په میلیونو دالرمونږ امریکایانو ته ورکړل چی په لمړی وار جګړه کی پرعراق باندی یرغل ویسو . مونږ شا ید هغه وخت دجګړی وړونکی او ګټونکی اوسیدل کله چی که چیری مونږ دSUN TZU (یوه چینایی مشهور اودجګړی وتلی تجربه کار)خبری اویا د خپلو تیرو با تجربه پلارونو نصیحتونه اود تاریخ د پا ڼی تیر شوی تجربی په پام کی نیولی اوپرهغه باندی موبا ورکړی وای او پخپل ورځنی فعا لیتونه کی اویا داچی دبریالیتوب په لټه کی اووسو ، اوکه نه دجنګ په ختمیدو سره ټول امریکان بشپړ ګټی ترلاسه کوی . دلته د یا دونی یوبل مهم خبر دادی اوهغه داچی مونږ لمړنی امپراتوری نه یا ستو چی د داسی نه ختمیدونکی جګړی سره مخا مخ یاستو بلکه په تیروزمانوکی لکه د همدی په څیر نه ختمیدونکی جګړه دما لی او بودجوی محدویتونو له کبله یا محد ود شوی اویا په ټپه سره دریدلی دی، مګر دا د امریکی پیل کړل شوی جنګ اوجګړه دی چی دهغه دوام دنورو هیوادونو څخه د پور په تر لاسه کولو سره دوام لری تاسی چین ته وګوری چی امریکی ته پور ورکوی او له امریکی څخه هرکال زیات ګټی تر لاسه کوی اوپه پای کی همدغه امریکا دی چی خپل ځان دمذهبی متعصبو په وړاندی نا توان اوکمزوری ګرځوی او په زرګونو بی ګناه خلک هره ورځ وژنی اوپه اسلامی نړی کی دامریکا د پاره نوی بیشمیره د ښمنان زیږوی .
لکه هسی چی Rand Paul وایی :دا امریکایی جنګ دی چی دامریکی جګړه ماران دعراق وشام دولت دخپلو مقا صد و دلاسته راوړلو په نیت ایجاد کړل ، اوپه مینځنی ختیځ کی پراخه اړ دوړ رامینځته کړ . متقاعد جنرال Mattis په یوخبری نا سته کی وویل : مونږ جنګ اوجګړه نه دی بایللی بلکه مونږ خپل زړه ګرمی اوعلاقمندی دلاسه ورکړی اودهمدی دلیل پربنیاد مونږ اوس دجنګ اودجګړی څخه په څټ شوی یا ستو .
دبلی خوا څخه دواشنګټن واکدارانو د پا ره داسراف اود ولخرچی د زمینی لنډول یا محد ودول ا وس د مید یا ترغوږ ونوپوری رسید لی ، فرید ذکریا (Farid Zekria) دښاغلی رند پاول(Rand Paul) وینا او یاد ونه په زغرده بنی سره تا یید وی اوهغه داچی هغه د جمهوریخواها نو اود ګن شمیر د موکراتا نو له طرفه مجبور وګرځول شو چی هغه په ټولنه کی دخپل دفاع په لټه کی وشی کوم چی هغه دیو تنبل اوبیکاره سړی په جمله کی شمیرل شوی وه ، چی هغه د ملی امنیت د تا مینولودروند په لاره کی څه ویلی وه .

ډیر محترم اوښاغلی پیجی نونان(Peggy Noonan) اوس ددی موضوع په اړه داسی وایی : مونږ په نظامی برخه کی ډیر زیات پیسی لګوو تر هغه ځا یه چی نه یواځی پرمونږ د پردیو دپور پیتی زیاتیږی یادرنه کیږی بلکه دبلی خوا څخه زمونږ دسلاح اود نظامی تجهیزاتو داستعما ل اود پکاروړلود تضمین لږی هم زیا تیږی هغه د بریمر (Bremmer)څخه داسی نقل قول کوی : دامریکی سیاستوالو دخپل ګټی دتر لاسه کولو دپاره دیو ډول توجیه یا همجولیز ولو په لټه کی ولویږی کوم چی مونږ په زوره سره دبحران خواته بیایی چی په واقیعت هغه زمونږ هیڅ دعلاقی وړ نه ګڼل کیږی اویا زمونږ کسب اوکار پوری هیڅ تعلق نه لری .

------------------------------------------------------ ***په درنا وی***